AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال
۲۰۱۸/۰۹/۰۱

# روسان ولی د طالبانو سر نژدی کیدل غواړی؟

ښای چی د ټولی نړی انسانان دځینو خاصو پیښو د نه هیرولو په برخه کی سره ورته والی ولری .یعنی تقریباً ټول بنیادم هم د نورو له خوا د دوی سره مرسته او هم د هغوی سره ظلم او تیری نه یوائی دا چی هیرولی نه شی بلکی ډیر کرت لیدل شویدی چی دا د نورو له خوا د تر سره شوی نیکی او یا بدی یاد د دوی اولادونو او حتی د اولادونو، اولاد ته هم ور پاتی شوی او د موقع سره سم یی ورته عکس العمل له ځانه ښوولی دی .
د دی خبری د ثبوت د پاره زما په خیال د کوم مشخص مثال راوړلو ته اړتیا ځکه نشته چی ټول بشری تاریخ له همدی انتقام او غچ اخستنی څخه ډک دی او هر څوک یی په هره زمانه کی په اسانی سره په زرګونو نمونی لیدلی او میندلی شی .

دا زمونږ د زمانی خبره ده چی د دویم نړیوالی جګړی را وروسته نړۍ دوه قطبه شوله .یوی لوری ته د امریکا د متحده ایالات او د هغه نورو غربی ملګرو دولتونو د (غربی) بلاک په نوم قرار در لود او بلی خواته د وخت د شوروی اتحاد د دولت په مشری د سوسیالیستی کمپ هیوادونو د (شرقی) بلاک په نوم قرار درلود. دی دواړو بلاکونو په نړیواله سویه د خپلو ګټو د ساتنی د پاره د ساړه جنګ تبلیغاتی او په غیر مستقیمه توګه تسلیحاتی مبارزه یو د بل په وړاندی پیل کړله چی ځنی مهمی پیښی یی چی د ټولی نړی په سیاسی او اقتصادی وضعیت یی په شلمه او روانه یویشتمه پیړی کی لوی اثر اچولی دی دادی :
لومړی ـ د ویتنام او امریکی جګړه: دا جګړه په ۱۹۵۵ کال کی د غربی بلاک له خوا پیل شوه او تر ۱۹۷۵ کال پوری روانه وه خو د امریکا دولت په مستقیمه توګه د جنوبی ویتنام د قوتونو په ملاتړ د شمالی کمونست ویتنام د قواو په مقابله کی د جولای د میاشتی په (۲۸) کال (۱۹۶۵) عیسوی کی په جګړه کی ورګډ شو او تر (۱۹۷۱ع (کاله پوری د زرګونو انسانانو تر وژلو اود واړو خواو ته د بی حسابه مالی تاوانونو تر اړولو ورسته په مستقیهم توګه جګړه د امریکی په ماتی او د ویتنام د دولت په بری سره پای ته ورسیده. اساسی پوښتنه داده چی د ویتنام په څیر یو غریب او ناتوانه دولت ځنګه و کولای شول چی د امریکی په څیر یوه نړیوال زبرځواک ته ماتی ورکړی؟ ځواب ډیر ساده دی او هغه داچی په دی جنګ کی په غیر مستقیمه توګه د وخت د شوروی اتحاد ډیره لویه برخه وه او د چین کمونست رژیم یی هم تر ډیره حده ملګرتیا کوله، او نتیجه دا شوه چی د امریکا امپریالیستی زبرځواک ، د شوروی د کمونیستی زبرځواک له خوا د ماتی سره مخامخ شو او امریکا دی ته مجبوره شوه چی تر شا شی او خپله ماتی ومنی .
دویم ـ د مصرنه د روسی متخصیصینو ویستل: شوروی دولت په پراخه اندازه د عربی هیوادونو لوری ته خپل پام اړولی و او په زیاته پیمانه یی په عربی شتمنه نړۍ کی نفوذ میندلی و. تر ټولو زیات لاس یی د جمال عبدالناصر په مشری د مصر په دولت کی لروده. کله چی انورالسادات د جمال ناصر ځای ونیو د یوه کال قدرت اخستنی وروسته یی د نیویارک ټایمز د خبر له مخی د( ۱۹۷۲ ع )کال د جولای په(۲۱) نیته یی (۵۰۰۰) نظامی مشاورین او (۱۱۰۰۰) نور نظامی متخصیصین له مصر څخه و ویستل او په دی توګه یی په عربی نړۍ کی د شوروی نفوذ ته ډیره قوی ضربه ورکړله. د هماغه وخت تحلیل په پراخه توګه داسی و، چی جمهوررئیس سادات چی په لومړیو کی د (کی جی بی) ملګری ګڼل کیده د (سی آی ای) اجنټ او یا هم یو قوی نشنلست و ګڼل شو او د امریکا په مرسته یی په عربی نړۍ کی د شوروی اتحاد پرمختګ ته لوی زیان ورساوه او دا په حقیقت کی د امریکا یو انتقا می ګزا و چی شوروی ته یی ورکړ .

د دی تر څنګ د افغانستان د لومړی جمهوریت سقوط هم د همدی دوه زبرځواکونو د مقابلو او زور ازمایلو په نتیجه کی را منځ ته شو، چی لا تر اوسه یی افغان ولس د ستمونو په اور کی سوځی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

دریم ـ په افغانستان کې د شوروی ماتې او ګډوډېدل:

د جمهوری نظام تر سقوط وروسته په افغانستان کې د مجاهدینو تر برې پورې ټول زعماتونه د شوروی له خوا جوړېدل او له منځه تلل، که څه هم لا په نړۍ کې د افغانستان په نوم یو مستقل دولت موجود و او د افغانستان د دولت سره د نړیوالو اړیکې نه وې شلیدلې خو، دا اړیکې دومره سستې او سړې وې چې د افغانستان په نوم دولت تش د یو نوم نه اخوا نور هیڅ نه و. د روسانو تر پوځې مداخلې وروسته، چې د (۱۹۷۹ع) کال د دسمبر نه تر د (۱۹۸۹ع) کال د فبروری پورې دوام وکړ، د امریکا دولت او د هغه غربې انډیوالانو ته ډیره ښه موقع په لاس ورکړله چې د شوروی دولت د نړیوالو قوانینو نه د یوه سر غړونکې قوت په توګه، نورې نړۍ ته هم ور وپیژنی او په افغانستان کې د هغه د ماتولو د پاره حتی د بې طرفو هیوادونو ملاتړ هم تر د لاسه کړی .په افغانستان کې د شورروی تر نهو کالو پورې پوځې شتون دی بیچار ه او غریب هیواد ته دومره د سر او مال زیانونه ورسول چې په تیرو زرګونو کلونو کې ورته نه و رسیدلی. خو داچې هره جګره یوه ورځ پای ته رسی، روس هم په افغانستان کې د امریکا په مستقیمه مرسته نه یواځې داچې مات شو او د افغانستان نه وتلو ته مجبور شو بلکې، په لنډ وخت کې د استبداد ځلې په پرله پسې توګه داسې و نړیدل چې له ګیډې نه یې ټول خوړل شوې هیوادونه یو په بل پسې را وولیدل او فدرالې دولت یې هم د ټوټه کیدو د ګواښ سره مخامخ شو .

وختونه تیر شول او د روس دولت د سختو حالاتو سره مخامخ شو. که و وایو چې بخت هم خپل کار کوی ډیر به نه یو خطا شوی. تقدیر ټوټه کیدونکې روس ته د پوتین په څیر رهبر په لاس ورکړ چې هر څه په بل ډول شول او ورو ورو د روس په نیم ژواندی بدن کې سارا و چلیده او په نسبتاً لنډ وخت کې هغه دی بیا دی مرحلې ته را و رسیده چې په هماغه افغانستان کې چې د دوی ساه په کې وتو ته نژدی شوی وه بیا لاس وهنه کوی او غواړی چې خپل انتقام په همدې خاوره کې د امریکا او د هغه د نورو انډیوالانو نه واخلی .

شاید پوتین ته به دا هم ورپه یاد وی چې څنګه په تیر پرون کې د ننني طالبانو پلرونو(د جهادی تنظیمونو مشرانو) په سپینه ماڼۍ کې د رونالد ریګن سره د روس د ماتیدو په هکله خبرې کولې. نن پوتین زیار باسی چې د افغان د نوو مجاهدو(طالبانو) سره د نورو نوو دوستانو په ګډون د روان کال د سپتمبر په څلورمه نیټه بې له دې چې د امریکا د دولت استازی پکې ګډون وکړی، او د افغان دولت ګډون هم په شک کې دی، یوه نوی غونډه کوی. دا ببخې څرګنده ده چې روس غواړی، د هماغو افغانانو په مرسته چې پرون یې دوی له خپلې خاورې نه وتلو ته مجبور کړل نن د همغو په زور د امریکې پوځې ټولګې د ناټو په شمول په ناکامه توګه د افغانستان له خاورې نه وتلو ته مجبور کاندی او د خپلو ماتو غاښونو انتقام بیرته له امریکې نه واخلی .

زه په دې باور یم چې تر څو زمونږ په څیر ساده ګان په دې دنیا کې شتون ولری تر هغې پورې به د لویو قدرتونو او زبرځواکونو د انتقام اخستنې میدان همدا زمونږ خاوره وی او د نورو د زور ازمایلو په ډګر کې به زمونږ د ځوانانو ککرې خاورې کیږی. ماته د طالبانو سره د روسانو د ملګرتیا جوړیدل له همدې پرته نور هیڅ شی نه بریښی. دا چې څومره به دا تعبیر سم وی او څومره به ناسم وی وخت به یې را ته و ښای، خو تر څو چې مونږ را پوهیږو تر هغې به د نورو د ګټو د پاره خپل وطن ورانوو او خپلې لمنې ته به خپله اور ور اچوو، کله به یوه قدرت راته په غاړه کې پیړۍ اچولې وی او به هم بل او ورونه به یو پر بل وژنی .پای .

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ